مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۴/۰۵/۰۲

# د پوهنتون خاطرې

## (۱۴)




له ټولو استادانو او په ځانګړې توګه له پروفیسر تقویم الحق کاکاخېل صیب څخه مو په هره برخه کې زړورې پوښتنې کولې. د دې ګڼ علتونه ول. مثلا: یو خو دا چې هغه په هر ډول پوښتنه هیڅ نه خپه کیده، هره پوښتنه یې په موسکا او مزاحیه انداز ځوابوله او بل دا چې د هغه له ځوابونو ډېر څه زده کیدل .

کله چې خبر شوم کاکاخېل صیب ستر دیني عالم دی او په دیوبند کې یې زدکړې کړې؛ نو دې پوښتنې کولو ته به هوسیدم چې ورته ووایم ولې دې دیني علوم پرېښودل او ادبیاتو ته دې مخه وکړه؟ خو بیا به مې له ځان سره ویل چې د چا له شخصي ذوق سره دې څه کار؟ که خپه شي؟ همدې جانبي پوښتنو به له اصلي پوښتنې صرف نظر کړم. خو دې حوصلې مې ډېر دوام ونکړ او یوه ورځ مې ترې هماغه پوښتنه وکړه. کاکاخېل صیب، د خپل عادت له مخې موسک شو او بیا یې له لږ وقفې وروسته راته وویل: ادبیات که د پښتو دي او که د فارسي، په مونږ ملایانو اباد دي. ههههه. مولنا جلال الدین بلخي، مولنا نور الدین جامي، حافظ شیرازي، شیخ مصلح الدین سعدي، رحمان بابا، حمید بابا، علي خان، مولنا قیام الدین خادم، مولنا عبدالقادر (پېښور پښتو اکاډمۍ پخوانی مشر) او... دا ټول له دیني علومو بهرمند ول. چې خبره زما په رابطه ده؛ نو زه خپل دلیل لرم او بیا یې نرمه او اوږده خندا وکړه. خبره دا ده چې دیني علومو ته ډېر کار شوی، عربو او عجمو ورته کار کړی. ډېر ستر ستر امامان او محققین پکې تیر شوي. نو ما ځان سره ویل چې که هر څومره دیني علوم وکړې، د اسلافو په منځ کې ځان ته ځای نه شي موندلی، نو راځه یو کار وکړه. پښتو، محرومه ژبه ده. څومره کار چې ورته په کار ده، هومره نه ده شوی او بل دا پښتانه عجیب قدر شناس دي، چې معمولي کار دې هم ورته وکړ، په یو څو کسانو کې به یاد شې. نو پښتو ادب ته مې مخه کړه او دا دی اوس ستاسو مخې ته د لکچرر په حیث ولاړ یم او خلک راته استاد وایي، په یو څو کسانو کې یاد یم. که، داسې نه ده؟

غلی شوم، د تایید سر مې وخوځاوه او په زړه کې مې ویل چې د تا په څېر فاضل او عالم انسان لرل خو پښتو او پښتنو ته بې حده ستر وياړ او ستر غنیمت دی .

بیا مې ورته ویل: کاکاخېل صیب، ستا لکچرونه مې واوریدل، ټلویزیوني بحثونه مې ولیدل او واوریدل، ستاسو ځینې مقالې مې ولوستې، کله مو شعر لیکلی او که نه؟ هغه بیا موسک شو او بیا یې ویل: داسې کوم دیوان خو مې نه دی مرتب کړی، خو کله کله مې یو نیم شعر لیکلی دی. اوس به خامخا راځنې د شعر نمونه غواړې او زما په ذهن کې خو نشته؛ خو دا یو بیت مې په یاد دی:

چې خبر له تاریکیو د ضیاء شوم
زه د ستورو له کاروان څنې جدا شوم



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

حیران شوم، د بیت په مانا مې هیڅ سر خلاص نشو. ما ویل استاده! ښه ده چې ډېره شاعري دې نه ده کړې، کنه د تشریح لپاره به یې چا چا پسې ګرځیدو!
استاد وخندل او بیا یې ویل: نو دا خو ساده خبره ده. ضیاء خو له موږ، تاسې افغانان ډیر پیژنئ او بیا یې په موسکا وویل: ښه درته ګران هم دی. او ضیاء روښنایي ته هم وایي؛ خو دلته زه ستاسو مهاجرو د خوښې ضیاء یادوم. زه چې د هغه له تاریکیو او ګمراهیو هههههه خبر شوم، نو ما د هغه ډله چې نښان یې ستوری و، پریښوده.
د ضیاء د تاریکیو د صفت په اوریدو ماته د خپل کیمپ واعظان را یاد شول چې د ده له قتل وروسته به یې ورته په خوند خوند اوصاف بیانول او زموږ مینه به یې ورسره په نالیدلي توګه زیاتوله. مثلا، ویل به یې: شهید ج ه اد افغانستان جنرال صیب ضیاء الحق به هره شپه تهجد کول. له دې سره به د تکبیر غږونه پورته شول، د ځینو له سترګو به تودې اوښکې را ورغړیدې .
ښه،
زه خو ماشوم وم، فکر مې کار نه کاوه خو هیڅ یوه مشر هم دا پوښتنه ونکړه چې و مقرر صیب، تهجد خو نیمه شپه کیږي .ته چې د هرپیور له کیمپه بیرون نه یې وتلی؛ نو څه خبر شوې چې ضیاء الحق په اسلام آباد کې په خپل کور کې یا کوم پوځې مکان کې نیمه شپه راپورته شو، اودس یې وکړ او بیا یې جاینماز هوار کړ او د تهجدو لمانځه ته یې نیت وتړه؟؟؟؟؟
ځینو به په ډیرې خواشینی او افسوس ویل: د جنرال صیب ستر ارمان دا و چې د کابل پلخشتي جامع جومات کې لمونځ وکړي. دې ارمان ته به هم خلکو ساړه ساړه آهونه ویستل؛ خو په دې یې هیڅ چورت نه واهه چې دې ارمان کې یې زموږ وطن ته څه خیر دی؟ ولې د خپل پایتخت تاریخي جومات ته د یوه پردي جرنیل فاتحانه راتګ ته خوشحاله شوو؟ ایا مطلب خو به یې دا نه و چې کابل د خپلې جغرافیې برخه کړي؟ او ...دا هغه پوښتني وې چې هغه وخت یې ذهنونو ته هیڅ لاره نه موندله.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولـئ